AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۱۰

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (اووه څلویښتمه برخه)

### ډاکټر سید عبدالله کاظم [1]

د میر محمد کاظم زوی، په ۱۹۴۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ ( میر محمد کاظم : د میر محمد هاشم زوی او میر محمد هاشم د اعلیحضرت امان الله د دوران د مالیې وزیر وو.) په ۱۹۵۹ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه او په ۱۹۶۳ز کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. همدا شان ئـې په لویدیځ جرمني، سویټزرلند او آستریا کې تحصیلات کړي دي او په ۱۹۷۱ز کال ئـې خپله دکتورا واخیستله. پوهنمل؛ د کسب او کار د مدیریت کولو [2] د دیپارتمنت مشر او تر ۱۹۷۸ز کال پورې د اقتصاد د پوهنځي رئیس. د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کې ئـې له عزیز الله لودین سره یو ځای د (وحدتِ ملي) بنسټ کښېښود. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني. په ۱۹۸۰ز کال کې ورته په لندن کې د افغان ملي بانک د اجرائیوي مدیر د دندې وړاندیز وسو خو دا وړاندیز ئـې رد کړ او په جرمني کې ئـې سیاسي پناه وغوښتله. په ۱۹۸۱ز کال کې د لویدیځ جرمني په (فرانکفورت/ م) [3] کې د افغان مهاجرو د ټولنې یو له بنسټ ایښودونکو څخه وو. له ۱۹۸۱ز کال راهیسې د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

### عظیم الصابر کاظمي

د موسی کاظمي زوی او د محمد الله کاظمي ورور په ۱۹۲۷ز کال کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۵ز کال پورې په پاکستان کې د سوداګرۍ اتشه. د میوندوال او موسی شفیق پر مهالونو د صدارت عظمی د دارالانشاء مشر.

[1] - د ژباړونکي یادونه : د ډاکټر صاحب سید عبدالله کاظم نوم دوه ځله راغلی دئ. د کتاب په ۸۴ پاڼې کې لومړی ډاکټر سید عبدالله کاظم لیکل سوی او لنډه شرحه ئـې ورکړې ده خو ورپسې همدا نوم د ډاکټر سید محمد کاظم په ډول لیکل سوی دئ. ددې کتاب کاپي نسخه چې ما ژباړونکي سره سته هغه د ډاکټر صاحب سید عبدالله کاظم د کتاب له مخې کاپي ده او هلته ډاکټر صاحب کاظم په خپل قلم اصلاح کړی چې د محمد پرنوم ئـې اصلاحي کرښه کښلې او هغه ئـې په عبدالله تصحیح کړی دئ او تر څنګ ئـې په حاشیه کې لیکلي دي (اشتباهاً دو بار تکرار شده است). له دې کبله ما هم یوازې یوه او صحیح برخه ئـې رااخیسته ده ځکه پر لومړۍ باندې ئـې ډاکټر صاحب س.ع. کاظم کرښه ایستلې ده- ژ

[2] -Business Administration

[3] - Frankfort/M, West Germany


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## محمد الله کاظمي

په جلال آباد کې ‹د ملي بانک د کارمند› موسی کاظمي زوی په ۱۹۲۴ز کال کې زېږېدلی دئ. د امریکا په متحده ایالاتو کې ئې تحصیلات کړي دي او په اقتصاد کې ئې ماستري اخیستې ده. ددولتي انحصاراتو رئیس. د افغانستان بانک مرستیال رئیس. د هلمند د درې د پرمختیایي پروژې عمومي رئیس. د مالیې د وزارت د محاسبې د ریاست رئیس. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## ډاکټر محمد ناصر کشاورز

د محمد عمر زوی او د ډاکټر نادر عمر او ډاکټر عبدالله عمر ورور په ۱۹۲۶ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۳ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ سوی دئ. د کابل پوهنتون د ساینس په پوهنځی کې شامل سو. په ۱۹۴۸ز کال کې ئې په فرانسې کې تحصیلات وکړل او خپله دکتورا ئې په ۱۹۵۷ز کال کې په ‹اګرونومي› [4] کې واخیستله. په ۱۹۵۷ز کال کې د کرنې په وزارت کې مدیر. په ۱۹۵۸ز کال کې د مالدارۍ د ریاست رئیس. په ۱۹۶۱ز کال کې د څارویو د روزنې د ریاست رئیس. په ۱۹۶۲ز کال کې د کرنې د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۶۳ز کال کې د کرنې وزیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د فراه، پروان او بلخ ولایتونو والي. د ننګرهار د پرمختیایي پروژې رئیس. د کرنې په ډګر کې د یو شمېر آثارو لیکوال. په ۱۹۵۴ز کال کې ئې له یوې فرانسوۍ مېرمنې سره واده وکړ چې ۱۹۷۷ز کال کې وفات سوه او بیا ئې له یوې افغان مېرمنې سره واده وکړ. مورنۍ ژبه ئې دري ده. او د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

**کشتمند** : وګورئ : کشتمند

**خادم ‹پیرِ هرات›** : وګورئ: میر غلام حیدر

## قیام الدین خادم

د ملا حسام الدین زوی په ۱۹۰۷ز کال کې د ننګرهار په کامې کې زېږېدلی دئ. تر ۱۹۲۵ز کال پورې ئې له خپل پلار څخه په اسلامي علومو کې زده کړې حاصلې کړې دي. په ۱۹۲۵ز کال کې د کامې په لومړنې ښوونځي کې او وروسته په جلال آباد کې ښوونکی. په ۱۹۳۳ز کال کې په کندهار کې د پښتو ټولنې غړی. په ۱۹۴۱ز کال کې د پښتو اکاډیمۍ مرستیال رئیس. په ۱۹۴۲ز کال کې د اتحاد مشرقي د ورځپاڼې محرر. په ۱۹۴۳ز کال کې د دایرة المعارف انسایکلوپیډیا ژباړې مدیر. په ۱۹۴۶ز کال کې د تعاوني کوپراتیف د ډیپو مدیر. په ۱۹۵۰ز کال کې د طلوع افغان محرر. په ۱۹۵۱ز کال کې د کابل مجلې محرر. په ۱۹۵۲ز کال کې د سروبي د اوبو د بند، د برق د تولید د بټۍ مدیر. په ۱۹۵۳ز کال د اصلاح مسؤول مدیر. په ۱۹۵۵ز کال کې د پښتو د تدریس عمومي مدیر او د زیري محرر. په ۱۹۵۸ز کال کې د پښتو اکاډیمۍ غړی. په ۱۹۶۳ز کال کې د هېواد د ورځپاڼې محرر. په ۱۹۶۵ز کال کې انتصابي سناتور. شاعر. په ۱۹۶۹ز کال کې د افغان ولس ناشر. د ۱۹۷۹ز کال په شاوخواوو کې وفات سو. مورنۍ ژبه ئې پښتو وه.

---

[4] -Agronomy


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## میر اکبر خیبر

په ۱۹۲۵ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ. د کابل حربي ښوونځي او پوهنتون ته تللی او په ۱۹۴۷ز کال کې فارغ سوی دی؛ زنداني سو او شېږ کاله ئې په زندان کې تېر کړل، ۱۹۵۰. د پولیسو د اکاډیمۍ ښوونکی او کېڼ لاسی وو. پرچمیانو به ورته د «استاد» خطاب کاوۀ. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د کورنیو چارو د وزارت مأمور. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د پکتیا ولایت ته تبعید سو. په ۱۹۵۲ز کال کې ئې په زندان کې له ببرک کارمل سره ولیدل. خیبر د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند یو له بنسټ ایښودونکو څخه وو او د مرکزي کمېټې غړی وو. وروسته د پرچم د جناح غړی او په وسله وال ځواک کې د فعالیت مسؤول سو. خیبر د پرچم د ډلې ایدیولوګ وو. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې په ۱۷ نېټې یوه ورځ وروسته له دې چې د بګرام له هوایي ډګر څخه ئې لیدنه کړې وه، ووژل سو. (د پرچمیانو د نشراتو پر بنسټ خیبر د حفیظ الله امین د باندې په وسیلې او د نورو سرچینو پر بنسټ د داؤودیستانو له لورې ووژل سو.) [5] د خیبر وژل کېدلو او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د غړو زنداني کېدلو د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې په ۲۷ نېټې د غوايي د پاڅون اور بل کړ. د بالاحصار د غرۀ په لمن کې خاورو ته وسپارل سو. خیبر د سلیمان لایق له خور سره وادۀ کړی وو.

## خیر محمد

په ۱۹۱۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خپلې زده کړې ئې د کابل د ښکلیو هنرونو په لیسې کې پای ته رسولې او له تېرو ۳۸ کالو راهیسې ئې په بېلا بېلو ښوونځیو کې د رسامۍ د هنر تدریس کاوۀ. په رسامۍ، نقاشۍ، موسیقۍ او لاسي تخلیقي هنر یا لاسي کارونو کې د استعداد خاوند وو. په ګڼ شمېر سیالیو کې ئې جوایز ګټلي دي. نوموړی د رابعۀ بلخي په لیسې کې نجونو ته تدریس کاوۀ او ورپسې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د ښکلیو هنرونو د دیپارتمنت غړی سو. د ۶۲ کالو وو چې په ۱۹۷۵ز کال کې وفات سو.

## خیر محمد

په ۱۹۰۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې په لیسې کې ئې زده کړې کړي دي. په (فضل برادران) [6] پورې اړوند سوداګر. او د ملي بانک (یو له بنسټګرو څخه ؛ د ملي بانک مرستیال رئیس. د زوی تخلص ئې خیرزاده دئ. د ۱۹۷۰ز لسیزې په اوږدو کې د موټر د ټکر په پېښې کې مړ سو.

## خیر محمد (خیرو جان)

د ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ز لسیزو په اوږدو کې د کندهار د پوېلزیو مشر. د هاشم خان پر مهال د سنا غړی. د کندهار په کرز کې ئې ژوند کړی دئ. د عبدالاحد کرزي، حبیب الله کرزي او خلیل الله کرزي پلار.

---

[5] - Was assassinated on April 17, 1978, a day after he visited the Air Force base at Bagram. His assassination and the arrest of members of the
Democratic People's Party triggered the Saur Revolution of April 27, 1978.

[6] -Baradaran



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

## ابوالخیر خیري

د احمد قلي حاجي میمنګي زوی په ۱۹۰۷ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د میمني د معارف مدیر. د ولسي جرګي غړی. د میمني د سنایي شرکت رئیس. شاعر هم دئ.

## فیض محمد خیر زاده

(د ملي بانک د بنسټ ایښودونکي ډلي د غړي) خیر محمد زوی د ۱۹۳۶ز کال په شاوخواوو کي زېږېدلی دئ. د ډرامي د لیکلو او د تولید هنر ئي د امریکا په متحده ایالاتو کي لوستی دئ. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د کابل ننداري ژتیاتر رئیس. له یوې تورکی مېرمني سره ئي وادهٔ کړی دئ.

## فضل محمد خیر زاده

(د ملي بانک د بنسټ ایښودونکي ډلي د غړي) خیر محمد زوی په ۱۹۲۷ز کال کي زېږېدلی دئ. د حبیبیې له لیسي او د کابل له پوهنتون څخه فارغ سوی او ورپسي د امریکا متحده ایالاتو او لندن ته په بانکداری کي د تحصیل لپاره لاړ. د ۲۴ کالو لپاره د ملي بانک غړی. په ۱۹۶۶ز کال کي د ملي بانک عالي مشورتي بورډ غړی. په ۱۹۷۳ز کال کي د ملي بانک سرپرست رئیس. مېرمن ئي د کابل د پولیسو د پخواني بولندوی توره باز خان لور ده.

### نور بیا

**عبدالبصیر خالد**

د محمد اسلم زوی په ۱۹۵۰ز کال کي د بدخشان په یفتل کي...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ